# کالج باونډ څه دی؟

**د لېسې دورې زده کوونکي:** کالج باونډ (College Bound) د واشنګټن د کالج بلاعوضه مرستې (Washington College Grant) په څېر د ایالتي مالي مرستې لومړنۍ ژمنتیا ده، چې د لېسې دورې څخه وروسته د زده کړو د لګښت په ورکولو کې له تاسو سره مرسته کوي. هغه مقدار پیسې چې پر شرایطو برابر زده‌کوونکي یې ترلاسه کوي د زده‌کړې د اوسط لګښت (د دولتي کالج په نرخ سره)، ځینو فیسونو او د کتابونو لپاره د کوچني مقدار پر اساس دي. تاسو کولای شئ چې له کالج باونډ څخه په واشنګټن کې په څه باندې 65 برخه اخیستونکو کالجونو، پوهنتونونو او تخنیکي ښوونځیو کې د خپلو زده‌کړو د لګښت ورکولو لپاره ګټه واخلئ.

## څنګه پر شرایطو برابر پاتې شوو

**د پروګرام اړتیاوې:**

- له WA لیسې، کورني ښوونځي څخه فارغ شئ یا په WA کې یوه GED (General Education Diploma, د زده کړو عمومي ډیپلوم) ترلاسه کړئ.
- که له لیسې څخه وروسته په مستقیم ډول څلور کلن کالج ته ځئ، باید لږترلږه باید 2.0 جي‌پي‌اې GPA (Grade Point Average, د نومرو اوسط) ترلاسه کړئ.
    - » که د ټولنې کالج یا تخنیکي لېسې ته ځئ، د لېسې دورې جي‌پي‌اې GPA (Grade Point Average, د نومرو اوسط) کوم شرط نشته.
- هېڅ جرمي محکومیت ونه‌لرئ.
- د نوم‌لیکنې د مهلت د پوره کولو لپاره له لیسې څخه تر فارغېدلو وروسته په یو کال کې په یو کالج یا د مسلکي ښوونځي کې نوم‌لیکنه کړئ.

## د 2025-26 د کورنۍ منځنی عاید

| د کورنۍ اندازه | کلنی عاید* |
|---|---|
| 1 | $44,500 |
| 2 | $58,000 |
| 3 | $71,500 |
| 4 | $85,500 |
| 5 | $99,000 |
| 6 | $112,500 |
| 7 | $115,000 |
| 8 | $117,500 |

* د کورنۍ عاید باید له دغه مقدار څخه کم یا ورسره مساوي وي.

## د کالج باونډ پیسې به څنګه ترلاسه کوم؟

- د لېسې په وروستي کال (او د کالج په هر کال) کې د مالي مرستې غوښتنلیک FAFSA (Free Application for Federal Student Aid, د فدرالي زده کونکو مرستې لپاره وړیا غوښتنلیک) یا WASFA (Washington Application for State Financial Aid،, د واشنګټن دولتي مالي مرستې لپاره غوښتنلیک) ثبت کړئ.
- د عاید او د ایالت د استوګنې اړتیاوې پوره کړئ. ستاسو کالج به وګورئ چې تاسو د MFI (Median Family Income،, د کورنۍ اوسط عاید) د عاید په جدول کې د عاید شرایط پوره کوئ او که نه.
- **له لېسې څخه تر فارغېدلو وروسته په یوه کال کې** پر شرایطو برابر یوه WA کالج یا مسلکي ښوونځي کې (له 60 څخه زیات دي!) نوم‌لیکنه وکړئ، او په ښه درجه کې پاتې شئ.

له کالج باونډ څخه په کالج کې له نوم‌لیکنې وروسته یا د لېسانس سند تر لاسه کولو پورې، هر یو یې چې مخکې وي، تر شپږو کلونو پورې ګټه اخیستل کېدای شي.

### کالج باونډ له ما څخه څه غواړي؟

- ډاډه تر لاسه کړئ چې کالج باونډ ستاسو اوسنی برېښنالیک، تلیفون، او پستي پته لري.
- د دې لپاره چې د فراغت په لور په سمه لاره پاتې شئ د خپل ښوونځي له سلاکار سره وګورئ.

په wsac.wa.gov/sfa-institutions کې وړ یا پر شرایطو برابر کالجونه، پوهنتونونه او د ټېکنالوجۍ ښوونځي وپلټئ.

## مرستې ته اړتیا لرئ؟ Otter ته لیکلی پیغام واستوئ!

OtterBot د متني پیغام استولو خدمت دی چې د لېسې له ټولو زده‌کوونکو او کورنیو سره مرسته کوي. د کالج باونډ، د کالج د پلان‌جوړونې، او مالي مرستې په اړه لارښوونې شریکوي. د QR کوډ په سکن کولو سره نوم‌لیکنه وکړئ:

| زده‌کوونکي | والدین/سرپرستان |
|---|---|
|  |  |

کالج یو ایالتي تمویل شوی پروګرام دی چې د واشنګټن
د زده‌کوونکو د لاسته‌راوړنو د شورا
(Washington Student Achievement Council) له خوا اداره کېږي.

WASHINGTON STUDENT
ACHIEVEMENT COUNCIL
EDUCATION · OPPORTUNITY · RESULTS



**مرستې ته اړتیا لرئ یا پوښتنې لرئ؟ له موږ سره اړیکه ونیسئ:**

collegebound.wa.gov
collegebound@wsac.wa.gov
888.535.0747 (1 غوراوی)